آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۵/۱۹

# ځان په دې سوبمن وبولو،

## چې خپل مړي شهیدان کړو

## (د ننگرهار ننۍ پېښه او زموږ دریغ)

د گلونو ښار کې گوره
چې وحشت دی په کوم حد کې
گلان څنگ سوزول کیږي؟
پاڼې څنگ رژول کیږي؟
ځوانان څنگ راوژل کیږي؟
زموږ زړه دا درې څیزونه:
چې سر زوړند، لاس لپه، اوښکې کړو تویې
له راکټ او له بمونو
له ځانمرگو واسکټونو
د ژوندون خیر وغواړو
ورسره مو دا بل کار هم
د تسپو په کانو شمیرو دوه شییونه:
د دښمن د ظلم کاڼي
په سره اور لمبه گلپاڼي
ځان په دې سوبمن وبولو:
چې خپل مړي شهیدان کړو
د بل مړي دوزخیان کړو.

۲۰۱۸/۰۵/۱۹
هیدر سلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ